# په پرنس ویلیم کاؤنټی عامه ښوونځیو کی
# د مور یا پلار کیدو حقونه او د شخړو حل

په پرنس ویلیم کاؤنټي په عامه ښوونځیو (PWCS) کې، والدین ډیری وخت د معلوماتو تر لاسه کولو، پریکړی کولو، او د لاس رسي موندلو حقونو په اړه پوښتنی لري، په ځانګړې توګه کله چې هغوي طلاق شوي وي اوسی یا د طلاق اخیستلو په حال کی وي. دا د هغو حقونو لنډیز دی، چې په ټولو والدینو باندې پلي کیږي په شمول د قانوني توقیف لرونکو (هغه کسان چې د محکمې د حکم پر اساس د ماشوم قانوني توقیف ورکړل شوی اوسی، یا هغه کسان چې د آیالت یا فدرال قانون لخوا په رسمیت پیژندل شوی د واک لرلو قانونی سند لري کوم چې هغوي ته د تعلیمي پریکړو تر سره کولو واک ورکوي) او په شمول د اصلي والدینو چې واده کړئ اوسی، جلا شوي اوسی، طلاق شوي وي یا هیڅکله یی هم واده نه وي کړی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د PWCS لاندې ذکر شویو مقرراتو ته مراجعه وکړئ:

مقرره 794-1، ”د ښوونځی مسایلو په سر د والدینو د شخړو حل“
مقرره 794-2، ”د محکمې حکمونه چې توقیف باندی اغیزه کوي یا چی د ماشوم د خوندیتوب لپاره صادر شوي وي“
مقرره 794-3، ”د ماشوم شاملول او ایستل“
مقرره 794-4، ”د زده کوونکي د بیړنی حالت کارت بشپړول“
مقرره 794-5، ”د زده کوونکي په اړه د معلوماتو په تړاو د والدینو حقونه“
مقرره 794-6، ”د ماشوم د خوشې کولو په تړاو د والدینو تر مینځ د شخړو حل“
مقرره 794-7، ”ښوونځي ته، د ښوونځي کنفرانسونو، او د ښوونځي فعالیتونو ته لاسرسی“
مقرره 794-8، ”د ماشوم په تعلیم کې د غیر والدینو ګډون“

د PWCS ټولې پالیسی او مقررات د ښوونځی ډیویژن په ویب پاڼه (www.pwcs.edu) کې د "About" ټنی په انتخابولو سره موندل کیدی شئ. دغه ټول د "پالیسیو او مقرراتو" ټب یا ټنی تر لاندې لست شوی دی. که تاسو انټرنیټ ته لاسرسی نلرئ، تاسو کولی شئ د خپل ماشوم د ښوونځی په مرکزی دفتر کې د اداری کارکوونکی څخه د مقررې د کاغذ کاپی وغواړئ. تاسو کولی شئ د دغو مقرراتو په اړه د ښوونځی مدیر یا د کالج، کیریئر، او د زده کوونکو د ملاتړ څانګې ته پوښتنې واستوئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا سند ستاسو د حقونو د عمومي لنډیز په توګه دی لکه څرنګ چی د PWCS په مقرراتو کې تشریح شوي دي. مهرباني وکړئ د لا زیاتو بشپړو معلوماتو لپاره هغه مشخصی مقرری ته مراجعه وکړئ چې دغه شخړه اداره کوي. که چیرته د دې سند او د پلې کېدو وړ مقررې تر مینځ کوم تضاد رامنیځته شي، بیا به مقرره د پلی کیدو وړ وي.

## د زده کوونکی معلوماتو او ریکارډ ته د لاسرسی حق

هر مور یا پلار د دې حق لري چې د خپل ماشوم ریکارډ وګوري یا یې کاپي تر لاسه کړي، پرته له دې په پام کی نیولو چې هغوي د ماشوم توقیف لری او که نه، او پرته له دې چې بل مور یا پلار پری نیوکه وکړي یا نه. والدین کولی شی چې د FERPAofficer@pwcs.edu بریښنالیک له لاری د PWCS د ریکارډ ساتلو دفتر ته د زده کوونکی د ریکارډ په مشخص کولو سره د زده کوونکو د ریکارډ کاپی لپاره وړاندیز وکړئ. وړاندیزونه به یوازې په هغه صورت کې رد کیږي که چیرته د محکمې داسې حکم شتون ولري چې په مشخصه توګه د ښوونځي ریکارډ تر لاسه کولو ته د والدینو حق محدودوي یا مخنیوی یی کوي، یا که چیرته د نافذ قوانینو له مخې د غوښتل شوي ریکارډ افشا کونه منع شوي وي.

**REBEKAH SCHLATTER**
**College, Career, and Student Support Department**
**P.O .Box 389, Manassas, VA 20108 • www.pwcs.edu • 703-791-7257**

کله چې والدین جلا جلا استوګنځایونه ولري، PWCS  به د ښوونځی د معلوماتونو یوه کاپي یوازې هغه مور یا پلار ته ورکوي چې په بنسټیزه توګه د ماشوم توقیف لري لکه څرنګ چې په د 1-794 مقرراتو کې تعریف شوی. دا د بنسټیزه توقیف لرونکي مور یا پلار مسؤلیت دی چې دا ډول معلومات د هغه بل مور یا پلار سره شریک کړي.

تاسو کولی شئ چې د PWCS ویب پاڼې او د خپل ماشوم د ښوونځی د ویب پاڼې له لارې د خپل ماشوم د اکاډمیکي پروګرام او د ښوونځی د فعالیتونو په اړه ډیر څه معلوماتونه تر لاسه کړئ. توقیف لرونکي والدین هم دا حق لري چې د ParentVUE (پخوا د والدینو پورټل په نامه یادیده) حساب ولري کوم چې هغوی ته اجازه ورکوي چې د خپل ماشوم د بس او ټولګي مهال ویش، نمرو، د حاضرۍ معلومات، او نورو په اړه معلومات وګوري. د PWCS په ویب پاڼه کې د "Families" ټب یا ټنې په انتخابولو سره د ParentVUE حساب جوړولو په اړه ولولئ. ParentVUE، په ویب پاڼه کې د "Most Requested" برخې تر لاندې لست شوی دئ.

## په ښوونځی کې د ماشوم د لیدو او د ښوونځی په فعالیتونو کې د ګډون کولو حقونه

پرته له دې پام کې نیولو چې مور یا پلار د یو ماشوم توقیف لري یا نه، او پرته له دې چې بل مور یا پلار پرې نیوکه کوي یا نه، هر مور یا پلار دا حق لري چې د ښوونځی په هغو غونډو کې ګډون وکړي چې په عامه توګه د والدینو لپاره پرانیستې وي لکه د والدینو د غړمي خواړه خوړولو غونډې، د والدینو او ښوونکو کنفرانسونه، او نورې غونډې. یو مور یا پلار کولی شي دا حق هر وخت وکاروي، نه یوازې په هغو وختونو یا ورځو کې چې مور یا پلار د لیدني د مهال ویش له مخې له ماشوم سره لیدنه کوي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې که چیرته مور یا  پلار د ماشوم سره یوازې د یوې نظارتي لیدني پورې محدود وي، نو دغه ډول لیدنې ته اجازه نه ورکول کیږي چې په ښوونځی کې یا د ښوونځی فعالیتونو پر مهال ترسره شي.

## د ښوونځی څخه د ماشوم د وړولو یا اخیستلو حقونه

هر مور یا پلار چې د ماشوم قانوني توقیف لري، کولی شي چې په وړاندیز کولو سره ماشوم له ځانه سره بوځي، پرته له دې په پام کې نیولو چې هغه بل مور یا پلار پرې نیوکه کوي یا نه. قانوني توقیف لرونکي مور یا پلار کولی شي چې دا حق په هر وخت کې وکاروي، نه یوازې په هغو وختونو یا ورځو کې چې مور یا پلار د لیدني مهال ویش له مخې له ماشوم سره لیدنه کوي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې PWCS دا ډول ګڼري چې ټول طبیعي والدین د خپلو ماشومانو قانوني توقیف لري، پرته له دې چې ښوونځی ته د محکمې لخوا یو داسې حکم وړاندې شي چې یوکې دغه حق ورڅخه اخیستل شوي وي. د جلا کیدو، طلاق، یا د توقیف د نورو شخړو په حالاتو کې، PWCS به د دې خبرې د تصدیق لپاره چې یو مور یا پلار د ماشوم قانون توقیف لري، د محکمې هغه حکمونه په نظر کې نیسي چې یکې ویل شوي وي چې یو مور یا پلار په یوازې قانوني توقیف لري، یا د بل مور یا پلار سره په شریکه قانوني توقیف لري. که چیرته د محکمې د حکم پر اساس، د یو مور یا پلار د قانوني توقیف لرلو حقونه رد شوي وي، نو هغوي به ونشي کولی چې ماشوم له ښوونځي څخه واخلي، پرته له دې چې قانوني توقیف لرونکي بل مور یا پلار په لیکلي ډول دغې کار ته رضایت څرګند کړي.

د ماشوم قانوني توقیف لرونکي مور یا پلار کولی شي چې د ښوونځي مدیر ته په لیکلي ډول نوټ وړاندې کړي، چې یکې د خپلې خوښې بل بالغ کس ته اجازه ورکونه ذکر شوي وي ترڅو وکولی شي د مور یا پلار پرځای ماشوم له ښوونځي څخه واخلي.

## په بیړني حالت کې د اړیکې ټینګولو په تړاو حقونه

هر هغه ماشوم چې په PWCS کې شامل وي، کولی شي یوازې یو بیړني کارت ولري. یو مور یا پلار چې په یوازې د ماشوم قانوني توقیف لري، په ښوونځي ډیویژن کې د هر ماشوم لپاره د بیړني کارت بشپړولو مسؤلیت په غاړه لري. که چیرته مور او پلار په ګډه قانوني توقیف ولري، نو له هغوي څخه تمه کیږي چې په ګډه سره د هر ماشوم لپاره یو بیړني کارت وسپاري. که چیرته والدین په ګډه سره د ماشوم قانوني توقیف لري او په بیړني کارت کې د معلوماتو د اضافه کولو په شمول د هغه مسؤل بالغ کسانو د نومونو په سر موافق نه وي چې ممکن د بیړني حالت په صورت کې ورسره اړیکه ونیول شي او وبه کولی شي چې له ښوونځي څخه ماشوم واخلي، نو هغه مور یا پلار چې د ماشوم بنسټیزه فزیکي توقیف په غاړه لري، باید بیړني کارت بشپړ کړي.

د توقیف حالت په پام کې نیولو پرته دواړه والدین حق لري چې د ماشوم د بیړني حالت کارت کې نومونه ولیکي حتی که بل مور یا پلار پرې نیوکه هم وکړي، مګر پرته له دې که محکمې بل ډول حکم کړی اوسی. که چیرې مور یا پلار د ماشوم توقیف نلري، نو د بیړني حالت په کارت کې به یې د نوم لیکلنه په دې معنی وي چې مور یا پلار ته د بیړني حالت په اړه خبر او معلومات ورکول کیدی شي. خو بیا هم، نه توقیف لرونکی پلار یا مور نه شي کولی د توقیف لرونکي مور یا پلار له لیکلي رضایت پرته له ښوونځی څخه ماشوم واخلي. (پورته ځائ کې د "خوشي کولو" برخه وګورئ).

## د تعلیمی پریکړو تر سره کولو حقونه

هغه مور یا پلار چې په یوازی ځان د ماشوم قانوني توقیف لري، یا د محکمې د حکم پر اساس د ښوونځي په چارو کې د وروستۍ پریکړې کولو واک ورکړل شوی وي، د ماشوم د تعلیمي پریکړو کولو واک په یوازی لري.

که چیری مور او پلار دواړه په ګډه د ماشوم قانوني توقیف لري، د ښوونځي کارکوونکی به دا ډول ګڼړی چې د یو مور یا پلار لخوا تر سره شوی پریکړه د دواړو رضایت څرګندوي، پرته له دی چې بل مور یا پلار د ښوونځي مدیر او هغه بل مور یا پلار ته د ناموافقت ښودلو په اړه په لیکلي ډول خبر ورکړي. په دغه صورت کې، له والدینو څخه تمه کیږی چې له یو بل سره مشوره وکړی او توافق ته ورسیږی. په هغه صورت کې چې اختلاف دوام ومومی، نو د ښوونځی کارکوونکی به د بنسټیزه فزیکی توقیف لرونکی مور یا پلار لارښوونه تعقیبوي.

## اضافی محدودیتونه

که چیرې مور یا پلار د جنسی تیری کوونکو په راجستر کې د جنسی تیری کوونکی په توګه ثبت وي یا د محکمې لخوا ورته له ښوونځی څخه د لیرې اوسیدو امر شوي وي، نو هغه مور یا پلار ته به هیڅ کله هم اجازه نه ورکول کیږی چې په ښوونځی کی یا د ښوونځی به ملکیت کی وو اوسی. سربیره پردې، د ښوونځی مدیر، لیول ایسی سویټ سپرانتیندنټ، یا د امنیت او کړکیچن حالت ته د چمتووالي ښودلو څانګه کولی شي چې د مور یا پلار په شمول هر هغه کس د ښوونځي له انګړ یا ملکیت څخه منع کړي چې ګډوډي رامینځته کوي یا د خوندیتوب اندیښنه رامینځته کوي، پرته د والدینو حقونه په پام کی نیولو چې ممکن دغه کسان یی ولري.

په داسې حالاتو کې چې کله یو مور یا پلار د ښوونځی په ملکیت کی د شتون اجازه نلري، مګر د خپل ماشوم په زده کړو کې د ګډون کولو حق لری، نو د ښوونځی مدیر به متبادلی لاری چاری برابروي چې پکی
د ښوونځی په ملکیت کې د والدینو موجودیت ته اړتیا نه وي، لکه د ټلیفون له لاری د والدینو او ښوونکو کنفرانسونه برابرول.

## د ماشوم په تعلیم کې د هغه بل مور یا پلار د ګډون کولو په اړه ستاسو اعتراضونه یا اندیښنې

د ښوونځی مدیران نشي کولی چې یوازې د یو مور یا پلار لخوا د نیوکی پر اساس د بل مور یا پلار د ګډون کولو حق محدود کړي. نیوکه کوونکی مور یا پلار باید ښوونځي ته د محکمې داسې حکم وړاندې کړي چې له لاندې ذکر شویو څخه یو په ډاګه کړي: د بل مور یا پلار قانوني توقیف ردوي، د ماشوم ښوونځي ته د تګ راتګ څخه یا له ماشوم سره د اړیکه ټینګولو څخه بل مور یا پلار منع کوي، بل مور یا پلار د نظارت سره لیدنی پوری محدودوي، د ښوونځي ریکارډ ته د بل مور یا پلار لاسرسی محدودوي، یا په تعلیمي پریکړی کولو کې د بل مور یا پلار هر ډول رول ردوي. د دغه ډول محکمې حکم پرته، د ښوونځی کارکوونکی به دا ډول ګڼړي چې مور یا پلار د ګډون کولو بشپړ حق لری.

*مهرباني وکړئ په یاد ولرئ، کله چې یو مور یا پلار دا باور ولري چې بل مور یا پلار د محکمې له حکم څخه سرغړونه کوي یا مور یا پلار یا ماشوم ته خطر وړاندې کوي، نو دغه مور یا پلار باید د محکمې، پولیسو، یا د اړونده ټولنیزو خدماتو اداری، لکه ماشومانو ته د خوندیتوب وړاندی کولو اداری څخه مرسته وغواړي.*

## د ښوونځي مدیر ته د اوسنی توقیف او نورو اړوندو حکمونو وړاندې کولو ډاډ رامینځته کولو لپاره ستاسو مکلفیت

والدین د **اوسنی** توقیف حکم یا د محکمې د نورو حکمونو د نقلونو چی د یو مور یا پلار حقونه، څرنګ چی په پورته برخه کې تشریح شوي دي، محدودوي، د هغه ښوونځي مدیر ته یی د وړاندې کولو مسولیت په غاړه لري چیرته چی ماشوم ګډون کوي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د ایالت قانون په مشخصه توګه اړینه ګڼړي چې که چیرته یوه محکمه د توقیف داسې پریکړه وکړي چې په ښوونځي کی نوم لیکنه کولو باندی اغیزه کوي یا یو جانب د ښوونځي څخه د ماشوم له اخیستلو څخه منع کوي، نو دا به د والدینو مسؤلیت وی چې د دغه ډول توقیف حکم کاپی د تر لاسه کولو څخه وروسته په دریو کاري ورځو کې دننه هغه ښوونځي ته په لاس ورکړي په کوم کی چې ماشوم اوس مهال شامل دی.